
**SWIS-H**
STATEWIDE INFANT
SCREENING - HEARING

# ولې زما ماشوم تشخيص دپاره ارزويني ته اړدي؟



که ستاسي ماشوم دلمړي دوو آوريدلو معاينې څخه روښانه نتيجه وانخلي، دوي به تشخيصي ارزويني ته اړوي.

کيداي شي دلته به يوشميردليلونه ده دپاره شتون ولري.

کيداي شي به دا وي:

- ستاسي دماشوم په غوږکې دپيدايښت نه مخکې اوبلنه موادیا بندوالي شتون لرل
- ستاسي ماشوم به څه درجې پورې دآوريدلوتوان نلري

داډيره مهمه ده چې ممکن حده پورې زرترزره ومونډل شي چې څنګه ستاسي ماشوم آوري ترڅوتاسي اوستاسي ماشوم په درسته توګه مشوره اومرسته واخستلای شي.

که تاسي هغي روغتون ته چې معرفي شوي ياست ۱۰۰ کيلومتره لرې اوسيږي، هغه کس چې تاسي ته دغه پاڼه درکړي هغي نه د SWIS-H سفرخرچه مرستي پروګرام دپاره مالومات وغواړئ.

## په تشخيصي ارزوينه کې به څه وشي؟

يوشميرمعاينې د جزئياتوسره مالومات دپاره چې ستاسي ماشوم څنګه آوري به ترسره شي.

يودآوريدلوساينس پوه، کوم چې دآوريدلو دمعاينې ماهر دي، دغه آزموينه به تر سره کړي. دغه آزموينه وريا ترسره کيږي.

دغي آزمويني نه به يوهم ستاسي ماشوم ژوبل نکړي.

## زه خپل ماشوم څنګه دغي آزمويني ته آماده کولي شم؟

دا به ډيره ښه وي چې ستاسي ماشوم دآزمويني په وخت کې اوده وي. په دي مقصد، دابه ښه وي چې لرزره وخت نه مخکې راشئ ترڅوخپل ماشوم ته شده ورکړي اوآرامه يې اوده کړئ.

که نورماشومان لرئ، لطفاً په کورکې ديوبل کس تنظيمولو بندوبست وکړي چې هغوی وساتي، ترڅوتاسي وکولي شئ دآزمويني ترآخره خپل ماشوم سره پاتي شئ. چارچاپيربايدآرام وي.

په تشخيصي ارزوينه کې يوشمير آزمويني کېدون لري، سهار يا ماسپښين ورته وقف کړه دا په دي پوري اړه لري چې ستاسي اپوينتمنټ په کوم وخت جوړيږي. مونږبه داهم خوښ يو چې يو کس مرستي دپاره ځان سره راوړئ.

## دغه تشخيصي ارزوينه څرنګه ترسره کيږي؟

يدغه تشخيصي ارززوينه د Auditory Brainstem Response (ABR) آزموينې په نامه ياديږي. موندونکي آله لکه هغې معاينې په شان دماشوم په سرکې به ځاي شي. دهيډفون دلاري نه صدا به ماشوم ته فعاله شي. ستاسي د ماشوم ځوابونه به ثبت شي. دغي ځوابونه به ستاسي دماشوم چې ضعيفه آوازکولي شي آوري وښئ.

## وروسته دارزويني نه به څه وشي؟

دآوازآوريدونکي ماهر به تاسي دنتيجي نه خبرکړي اومعمولاً په عين ورځ، تاسي ته به ووايي چې نتيجي څه مانا ورکوي.

که ومونډل شوچې ستاسي ماشوم آوريدل دلاسه ورکړئ، تاسي به په NSW کې د يود دريو NSW کوچنيانوروغتون کې د متخصص خدمتونوته معرفي شئ. دغي خدمتونوته به راپورولیږل شي. د دغي کاپي به هم تاسي، ستاسي کورنۍ ډاکټر، ستاسي دماشوم دکوچنيانو ډاکټرته سره دستاسي رضايت خط وليږل شي. د آوريدلوماهراو ستاسي دتولنيزی هوساينې کارمند به تاسي سره مرسته وکړي چې کوم مرستي ته تاسي او ستاسي ماشوم اړوي دغي خدمتونه ترلاسه کړئ.

که ومونډل شوچې ستاسي ماشوم نارمل آوريدلي شي مګر په وروسته وخت کې د خپل ماشوم دآوريدلو، خبرې کولويا دژبې ودې په باره کې انديښنه پيداکړه، لطفاً دخپل ماشوم ددوباره دآوريدلو آزمويني دپاره بندوبست وکړئ.

خپلې کورنۍ ډاکټرسره خبرې کول دپيل ښه ځاي دي.

آوريدل کيداي شي هرعمرکې آزموينه شي.

**زياتومالوماتوترلاسه کولودپاره لطفاً لاندي ويب پاڼې څخه کتنه وکړئ:**

http://www.health.nsw.gov.au/kids-families

**سيمه ييزاړيکه/وخت جوړولوجزئيات**

روغتيايي مشوري دپاره اړيکه *healthdirect Australia*
http://www.healthdirect.gov.au/
**1800 022 222**

© NSW Health September 2016 SHPN (NKF)150343

NSW GOVERNMENT | Health